
# Building on Hope

## د پرووایډېنس عامه ښوونځیو د بېرته راستنېدو د عمل پلان په اړه راپور




جنوري 2025









RIDE Rhode Island Department of Education

Providence Schools

## د پرووایډېنس قدرمنې ټولنې،

د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې (PPSD) د رئیس په توګه، ما فرصت درلود چې د SchoolWorks او د اروړد اوسنیو راپورونو ته چې په PPSD کې رامنځته شوي اصلاحات روښانه کوي او د دوامداره ننګونې ساحې مشخص کوي، له نږدې څخه بیاکتنه وکړم. ما همداراز د خپلو کورنیو او ټولنې د سروې کولو، د فیډبیک اوریدلو فرصت درلود چې هغوې چېرې اصلاحات ګوري او له موږ څخه غواړي چې په کومو ځایونو کې په خپلو دوامدارو هڅو باندې تمرکز وکړو.

ما د ټولنې د 21 اصلاحاتو پرمهال چې موږ یې په منې کې کوربه توب کړی وو د سروې د پایلو له مطالعې او زموږ د کورنیو د غږونو اوریدلو څخه ډېر څه زده کړل. زه ویاړم چې د 77% PPSD کورنیو چې دا سروې یې بشپړه کړې ده دا تائیدوي چې هغوې پوهیږي چې د هغوې ماشوم له اکاډمیک پلوه څنګه فعالیت کوي. د دې سربېره، د PPSD 68% کورنۍ چې دا سروې یې بشپړه کړې ده راپور ورکوي چې د هغوې ماشوم هغه اړین ملاتړ ترلاسه کړی ده چې هغه ورته اړتیا لري او د 70% PPSD کورنۍ راپور ورکوي چې د هغوې ښوونځی هغه اکاډمیکې ستراتیژۍ شریکوي چې هغوې کولای شي هغه په کور کې له خپل ماشوم سره وکاروي. دا یوه نښه ده چې کورنۍ زموږ له ښوونځیو او د خپلو ماشومانو له ښوونې او روزنې سره د ډېرې اړیکې لرلو احساس کوي.

> **PPSD نه انکاریدونکی پرمختګ کړی دی او دې کار ته یې د راپورونو د خپریدو راهیسې ادامه ورکړې ده او دا کار یې په پېچلو شرایطو کې ترسره کړی دی.**

موږ پدې هم پوهیږو چې کورنۍ زموږ د ښکېلتیا له امله د حاضرۍ په ارزښت باندې پوهیږي او له تعلیمي حوزې څخه غواړي چې د دوامداره غیر حاضرۍ د کچې راټیټولو لپاره لا ډېر کار وکړي. د کورنۍ د سروې پایلو څرګنده کړه چې 33% ځواب ورکونکي پدې باور دي چې تعلیمي حوزه باید د مشارکتونو پیاوړتیا او د کورنیو او تعلیمي حوزې تر منځ همکارۍ ته لومړیتوب ورکولو ته ادامه ورکړي ترڅو د دوامداره غیر حاضرۍ مخنیوي وکړي. کورنیو هم په PPSD باندې غږ وکړ چې د ژبې د ننګونو یا ځانګړو اړتیاوو لرونکو زده کونکو لپاره د اکاډمیکو پایلو د اصلاح په موخه د یوې مهمې ستراتیژۍ په توګه د ژر منځګړیتوب د پروګرامونو د مشخص کولو، پیاوړتیا او ډیرولو لپاره لا ډېر اقدامات ترسره کړي. هغوې په دغه ټولګېو کې د کار کونکو د ګمارلو د ننګونو په اړه راپور ورکړ او هغه ستراتیژیانې یې یادې کړې چې د کمښت د ستونزې د حل لپاره کارول کیدلې شي لکه اوسنیو کارکونکو لپاره د مسلک د لارو پراختیا، د کارکونکو د فیډبیک غوښتلو له لارې د پرانستو اړیکو ساتل، او په تنوع، مساواتو، او د شمولیت په ستراتیژېو باندې پانګونې ته ادامه ورکول.

زه له ټولنې سره له دې ښکېلتیا او د SchoolWorks او هاروړډ راپورونو له تحلیل څخه له سیسټم څخه د خپلو ورځنیو مشاهداتو تر څنګ په درې عمده ټکو کې خپل انعکاسات ترتیب کوم:

1. PPSD نه انکاریدونکی پرمختګ کړی دی او دې کار ته یې د راپورونو د خپریدو راهیسې ادامه ورکړې ده او دا کار یې په پېچلو شرایطو (لکه کوربډ او د پرووایډېنس ښار لخوا لږه پانګونه) کې ترسره کړی دی.
2. دا پرمختګ په تصادفي ډول سره ندی رامنځته شوی او دا زموږ په ماشومانو او ښوونځیو باندې د یو عمدي ډیزاین او پانګونې پایله وه. د دغه نوو سیسټمونو ډیزاین نوی او ماتیدونکي دي او باید د ښار د رهبرۍ لخوا—له مالي پلوه او په عمل کې—وده وکړي.
3. پداسې حال کې چې موږ دا پرمختګ لمانځوو، موږ پوهیږو چې ډیر کار اړین دی. زموږ ټولنه، او زموږ د سیسټم خپلواکه بیاکتنې، له موږ څخه په مهمو برخو کې د اصلاحاتو د چټکتیا تمه کوي او موږ باید دا کار د ښار د له رهبرانو سره په مشارکت کې ترسره کړو او دا کار په لاندې برخو کې ترسره کړو: 1) حاضرۍ؛ 2) اکاډمیکې پایلې؛ 3) وده، ګمارنه، او د کارکونکو ساتنه؛ 4) ښکېلې ټولنې؛ او 5) مالي ثبات.

په PPSD کې د یو روزونکي او رهبر په توګه چوپړتیا ترسره کول زما د مسلکي حرفې تر ټولو مهم کار وو. زه ویاړم چې د پرووایډېنس مالیه ورکونکی یم او زما خپل ماشومان او لمسیان زموږ د ښار په غوره ښوونځیو کې زده کړه کوي (کړې ده). زما لپاره له مسلکي پلوه د دې ډاډمنولو پرتله هېڅ بل څیز دومره مهم ندی چې PPSD زموږ ماشومانو لپاره یو پیاوړی سیسټم دی او دا چې موږ ځایي کنټرول ته د بېرته بریالي راګرځیدو لپاره شرایط وضع کوو او دا کار له مالي پلوه په یو مسؤل ډول سره چې دا ډاډمنه کړي چې دا بېرته نه راګرځي، ترسره کوو.








په ساده ډول سره، PPSD هېڅ کله هم نشي کولاې چې خپل له منځګړيتوب څخه دمخه حالت ته بېرته راوګرځي. موږ باید له هغه حرکت څخه ګټه پورته کړو چې موږ په ډله ایيز ډول سره رامنځته کړی دی ترڅو هغه شراېط خوندي وساتو کوم چې موږ ته اجازه راکوي چې د خپلې ټولنې او خپلو ماشومانو لپاره په مثبت ډول سره پر مخ ولاړ شو. دا پدې معنې، چې PPSD باید د داسې یو څارونکي ټیم لخوا رهبري شي چې د زده کونکي په پاېلو متمرکز وي، د زده کونکو د پاېلو د ډېرولو له موخې سره پالیسۍ په پراختیا ورکړي، او د PPSD مشرتابه سره مثبتې کاري اړیکې جوړې کړي. د دې سربېره، د ښار رهبري باید په ګډه کار وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې PPSD خپلې د اړتیا وړ سرچینې لري ترڅو اصلاح باثباته وساتي او چټکه يې کړي او نويو يا نويو ته ورته ودانېو ته لاسرسی ډاډمن کړي. زموږ ټولنې لپاره د مهمو لوړ تمرکز لرونکو ساحو په کوچني شمېر باندې د ډله ایيزې اغیزې کولو لپاره باید هغوې په یو ګټور او متمرکز ډول سره خپل نفوذ هم د ټولنې راټولولو لپاره وکاروي (د بېلګې په توګه د سواد پاېلې، حاضري، کالج ته لاسرسی).

هیله لرم چې دا سند به–کوم چې هغه څه ته د PPSD د څواب په معنې ده چې موږ له خپلې ټولنې او له دوه تعلیمي راپورونو څخه اوریدلي او زده کړي دي–د راتلونکي عمل پلان په جوړولو کې مرسته وکړي.

په درنښت،

ډاکټر جاویر مونټانیز
رئیس

# PPSD نه انکاریدونکی پرمختګ کړی ده

۵ څ پوښتنه نشته ده: PPSD په 2024 کال کې د پام وړ پرمختګ ترلاسه کړې دی. دې سیسټم د تاسیساتو او زیربناء په اصلاح، د نوښتي تعلیمي پروګرامونو په پراختیا، د زده کونکو د حاضرۍ په اصلاح کې د ایالت په رهبرۍ، د ښه اکاډمیک فعالیت په ودې، او د څو ژبو زده کونکو لپاره د ملاتړ په اصلاح کې تاریخي پانګونې ترسره کړې دي. د پروواېډېنس د بېرته راګرځیدو د عمل پلان (TAP) سره په مطابقت کې، د راډ ټاپو د پوهنې وزارت (RIDE) سره په شراکت کې، PPSD داسې بدلونونه پلي کړي دي چې د زده کونکو پایلې اصلاح کوي او د ښوونځي ټولنه په ښه توګه ښکېلوي.

هغه شواهد چې موږ هغې ادعا ته رسوي چې PPSD پرمختګ کړی دی چې په هغې کې لاندې موارد شامل مګر په لاندې مواردو پورې محدود نه دی:

- زموږ پنځو ښوونځیو—آسا میسر (Asa Messer)، ریزرویر ایوینیو (Reservoir Avenue)، د جوانیتا سانچیز تعلیمي مجتمع (JSEC)، د پروواېډېنس مسلکي او تخنیکي اکاډمي (PCTA)، او ګرین منځنې ښوونځي—په ټول ایالت کې یوازې د هغو نهو ښوونځیو په ډلې کې وو چې د انګلیسي ژبې هنرونو (ELA) او ریاضیاتو کې یې د زده کونکو په لاسته راوړنې کې پنځه سلنه یا هغه څخه ډېر ډیریښت او اوږدمهاله غیر حاضرۍ کې یې پنځه سلنه یا هغې څخه ډېر کمښت لیدلی دی.
- PPSD په ویاړ سره اعلان وکړ چې د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت د ډاکټر مارټین لوټر کینګ، جونیر لومړنی ښوونځی د 2024 کال National Blue Ribbon د یو ښوونځي په توګه ونوموي. **دا ښوونځی د لاسته راوړنې د خلا-بندولو د نمونه اې ښوونځي په توګه وپیژندل شو، چې د زده کونکو لاسته راوړنې کې د توپیرونو کمولو لپاره د هغه د وقف ژمنه ده.** کینګ د PPSD لومړی لومړنی ښوونځی دی چې د National Blue Ribbon School امتیاز ترلاسه کوي او د تعلیمي حوزې په تاریخ یوازېنی دویم ښوونځی دی چې په 2017 کال کې له کلاسیکل عالي لیسې سره په رسمیت وپیژندل شو.
- د 2024 کال د ښوونځي او د تعلیمي حوزې د حساب ورکولو پایلو څرګنده کړه چې د PPSD اوو ښوونځیو د خپل ستورو اندازه لوړه کړه او تعلیمي حوزې د جامع ملاتړ او اصلاح (CSI) لپاره د ټاکل شوو ښوونځیو شمېر له 11 څخه نهو ته را کم کړ. **د ایالت له منځګړیتوب څخه دمخه د 2019 کال د حساب ورکولو د پایلو په پرتله، د پروواېډېنس د هغو زده کونکو سلنه چې په CSI ښوونځیو (د ایالت تر ټولو لږ فعالیت کونکو ښوونځیو لپاره فدرالي ټاکنه) کې زده کړه کوي په 2024 کال کې له 37.5% څخه 29.3% ته راکمه شوې ده. دا په 2019 کال کې د CSI له 13 ښوونځیو څخه اوسنیو نهه ښوونځیو ته یو کمښت څرګندوي او د پروواېډېنس د نږدې 3,000 لږو زده کونکو لامل شوه چې په CSI ښوونځیو کې زده کړه کوي.**
- د راډ ټاپو د 2024 کال د جامع ارزونې سیسټم (RICAS) کې، د PPSD زده کونکو لاسته راوړنې څرګندې کړې دي. **د پروواېډېنس عامه ښوونځي په ایالت کې یوازنۍ ځایي تعلیمي حوزه وه چې په RICAS ELA او ریاضي او SAT ELA او ریاضي په برخه کې یې خپلې پایلې اصلاح کړې دي.**
- **تعلیمي حوزې د اوږدمهاله غیر حاضرۍ په برخه کې د پام وړ کمښت په ترلاسه کولو کې د ایالت رهبري کړې ده،** چې په 2022-2023 تعلیمي کال کې له 48.4% څخه په 2023-2024 کال کې 36.2% کمښت ته راټیټ شو. دا د نمرو 12.1 سلنه کمښت په 2021-2022 کال کې د تعلیمي حوزې د 57.1% تر ټولو لوړې کچې څخه د 20.9 سلنې نمرو کمښت په نښه کوي او اوسنۍ کچه په 2018-2019 کال کې د 37.3% وبا څخه دمخه کچې لاندې راولي.




- د نومبر په میاشت کې، PPSD د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت سره یوې هوکړې ته ورسید چې د څو ژبو د 8,000 زده کونکو له فدرالي څارنې څخه چې په 2018 کال کې پیل شوې وه ووځي، پداسې حال کې چې PPSD د ښار تر کنټرول لاندې وه. د تړون لاسلیک کولو راهیسې، PPSD د زده کونکو او روزونکو د ملاتړ په برخه کې میلیونونه پانګونه کړې ده او له خپلو شرایطو سره د مطابقت ډاډمنولو او د دې ډاډمنولو لپاره چې د څو ژبو زده کونکو او د انګلیسي ژبې د محدود مهارت لرونکو (LEP) والدینو ته په سمه توګه چوپړتیا کوي، ډېر کار تر سره کړی ده. تعلیمي حوزې د څو ژبو زده کونکو د ملاتړ په برخه کې خپلې کلنۍ، تکراري پانګونې له 5 میلیونه ډالرو څخه ډېرې کړې دي چې په هغې کې د کار کونکو د ګمارنې، تصدیق، د ژباړې او شفاهي ژباړې چوپړتیاوو، او د لوړ کیفیت لرونکي تعلیمي نصاب او مسلکي ودې لپاره اضافي بودجه شامله ده. PPSD د ګاونډیو ټولنو په مخکې له DOJ سره د خپلې مصالحې تړون پای ته رسولو ته چمتو دی. **برعکس، د باسټن عامه ښوونځي په 2010 کال کې MLLs لپاره له DOJ سره د رضایت فرمان لاسلیک کړ او تر اوسه پورې هم د هماغه تړون لاندې پاتې دي.**

کم پرمختګ چې موږ په PPSD کې لیدلی ده هغه په تصادفي ډول سره ندی رامنځته شوی، مګر د عمدي ډیزاین او تمرکز له لارې او زموږ په ښوونځیو، زموږ په ماشومانو او زموږ په روزونکو باندې د پام وړ پانګونې پایله ده. زه هغه ساحې په لاندې ډول سره روښانه کوم، چې د ښبرته راګرځیدو د عمل پلان د رکن لخوا ترتیب شوي دي، چیرې چې موږ پانګونه کړې ده او خپله پاملرنه مو متمرکز کړې ده.

## 1 رکن: زده کړې کې غوره والی

چیرې چې موږ وو: د ایالت له منځګړیتوب څخه دمخه، د سیستماتیکو موضوعاتو له امله چې ښوونه او زده کړه یې کمزورې کړې وه، PPSD د اکاډمیک غوره والي په ودې کې له ژورو ننګونو سره مخ شوی وو. د زده کونکو د زده کړې د لیدو وړ لږو شواهدو شتون درلود، په ځانګړې توګه په منځنیو ښوونځیو او لیسو کې. تعلیمي حوزې یو متحد، لوړ کیفیت لرونکي تعلیمي نصاب نه درلود، او د زده کونکو د لاسته راوړنو توقعات په خطرناک ډول سره لږ وو. د خپلواکه بیاکتنو له مخې، " په اکثرو ټولګیو کې تدریسي دقت خورا ټیټ دی، زده کونکي به کافي اندازه ننګول شوي نه وو." د ښوونکو روحیه کمزورې شوې وه او د تدریسي تمرینونو د اصلاح لپاره د ناکافي مسلکي پرمختګ او ملاتړ راپور ورکړل شوی دی.

چیرې چې موږ نن یو: د انسجام او دقت د اړتیا په درک کولو سره، د PPSD ټیمونو د انګلیسي ژبې په هنرونو، ریاضیاتو، او ساینس کې لوړ کیفیت لرونکي تدریسي توکي کارولي دي. دا یو ظاهري بدلون نه وو مګر د تعلیمي حوزې په کچه اصلاح وه، چې د تشدیدي مسلکي ودې لخوا ملاتړ شوې وه ترڅو روزونکي له کلتوري او ژبني پلوه ځواب ورکونکي تدریس د وړاندې کولو په ابزارونو باندې سمبال کړي. د دې ډاډمنولو لپاره چې دا هڅې د اندازه کولو وړ پایلې لري، PPSD د ټولګي د لیدنو، د فیډبیک حلقو، او د ډیټا ډیش بورډونو په ګډون د څارونې پیچلي سیستمونه پلي کړي دي، ترڅو تدریسي اغیزناکتوب تحلیل کړي او ښوونځي د فعالیت لپاره مسؤل وګڼي. د لوړ-لومړیتوب لرونکو ښوونځیو کې سرچینو باندې د تمرکز کولو او د عملي مالوماتو په کارولو سره، تعلیمي حوزه د لاسته راوړنې خلا ګانې بندوي او زده کونکو لپاره فرصتونه ډیروي ترڅو له اکاډمیک پلوه بریالي شي.

زموږ د سیستم د پرمختګ لپاره موږ یوه اکاډمیکه زیربناء ډیزاین کړې ده او باید پدې بنسټ باندې پانګونې او د هغه جوړولو ته ادامه ورکړو څکه چې دا په لاندې مواردو پورې اړه لري:

**د لوړ کیفیت لرونکی تعلیمي نصاب:** د 24-2023 تعلیمي کال پر مهال به د تعلیمي حوزې هر ښوونکي د انګلیسي ژبې په هنرونو، ریاضیاتو، او ساینس کې د لوړ کیفیت لرونکي، او له معیارونو سره برابر تعلیمي نصاب ته لاسرسي ولري. دا لاسته راوړنه پراو لرونکی میتود کاروي چې په 22-2021 کال کې له آزمایښتي پروګرامونو سره پیل شو. روزونکي او د تعلیمي حوزې رهبران د محدودې او لږی، چټکتیا، او د تعلیمي نصاب پر بنسټ ارزونو کې جامع لارښوونې ته د لاسرسي لرلو راپور ورکوي. د تعلیمي نصاب مالوماتو ته ښه شوي لاسرسي د تدریسي کړنو د ودې روانې هڅې ملاتړ کړې دي چې د تعلیمي حوزې له موخو او لومړیتوبونو سره مطابقت ډاډمنوي.

**د ډیټا یا مالوماتو سیستمونه: PPSD** د یو غښتلي، د تعلیمي حوزې په کچه د مالوماتو پر بنسټ د پریکړې کولو د کلتور رامنځته کولو له لارې خپل روش د مالوماتو کارولو ته بدل کړي دی ترڅو د زده کونکو لاسته راوړنې اصلاح کړي. دې ژمنې په مهمو برخو لکه حاضری، د FAFSA په بشپړولو، د کریډیټ په بیا ترلاسه کولو، د تعلیمي نصاب په معیارونو، د فراغت کچو ته په چمتو والي، د ملاتړ په څو طبقه اي سیستمونو (MTSS)، او د معیارونو-د کچې په مهارت باندې تمرکز کړی دی. په 24-2023 کال کې، تعلیمي حوزې خپل د مالوماتو د تحلیل مدغم شوو طریقو ته پراختیا ورکړې ده، چې د ریښتوني وخت د لیدلو وړاندې کولو لپاره د مالوماتو د مجسم کولو له پرمختللو ابزارونو (PowerBI) څخه ګټه پورته کوي. د یو بریالي آزمایښتي نوښت پر بنسټ، دې ابزارونو د ښوونځي ټیمونه، د تعلیمي حوزې مشران، او بهرني شریکان ځواکمن کړي دي ترڅو د مالوماتو په روانو بیاکتنو کې ښکیل شي. دا پروسه دوامداره انعکاس او تحلیل مدغم کوي، او شریکانو ته وړتیا ورکوي ترڅو د ستراتیژیکې پریکړې کولو لارښوونه وکړي او په اکاډمیکو او عملیاتي پایلو کې د اندازه کولو وړ اصلاحات ترلاسه کړي. ورځنیو عملیاتو کې د مالوماتو د مدغم کولو د طریقو له لارې، PPSD ډاډمنوي چې هره پریکړه د شواهدو پر بنسټ ترسره کیږي، چې د زده کونکو، ښوونځیو، او د ټولې تعلیمي حوزې د پرمختګ لامل ګرځي.

**د څو ژبو زده کونکي: PPSD** د تدریسي لارښوونې، مسلکي زده کړې، او د څو ژبو زده کونکو (MLLs) د ملاتړ لپاره د روزنې په برابرولو کې د پام وړ پرمختګ کړی ده. په پایله کې، د ACCESS په ازموینه کې د MLL زده کونکي فعالیت ښه شوی دی. تعلیمي حوزې د څو کلونو په اوږدو کې د ټولو تدریسي کارکونکو د روزنې او ملاتړ په برخه کې له 7 میلیون ډالرو څخه ډیره پانګونه کړې ده چې په پایله کې یې د PPSD د DOJ د مصالحې له هغه تړون څخه ووت چې شپږ کاله وړاندې پیل شوي وو. تعلیمي حوزې د MLL ټاکلي تعلیمي نصاب اضافه کړ او ډاډمنوي چې زده کونکي هره ورځ د انګلیسي ژبې وده ترلاسه کوي.




**مسلکي او تخنیکي ښوونه او روزنه (CTE):** د ایالت د منځګړیتوب راهیسې، په تعلیمي حوزې کې د CTE پروګرامونو شمېر د 40% سلنې په اندازې ډېر شوی دی، چې په SY20 کې له 18 پروګرامونو څخه په SY25 کې 29 پروګرامونو ته وده کړې ده. PPSD له ټولنې او د پوهنتون شریکانو سره هم همکاري کړې ده چې د CTE د باورلیک په ترلاسه کولو کې یې د پام وړ ډېربښت ته لاره هواره کړې ده، له PPSD څخه د CTE د فارغیدونکو زده کونکو سلنه چې د RIDE د بشپړونکي وضعیت لري په 2019 کال کې له 3% څخه په 2024 کال کې 42% ته لوړ شوی دی.

**Advanced Academics:** PPSD په خپلو Advanced Academics پروګرامونو کې د لاسرسي او مساواتو د ودې په برخه کې د پام وړ ستر ګامونه پورته کړي دي، او ډاډمنوي چې ډېر زده کونکي د زده کړې له خوړا دقیقو فرصتونو څخه ګټه پورته کوي. تعلیمي حوزې د پرمختللي شمولیت (AP) کورسونو کې د شمولیت کچه د لیسې په کچه په 24-25 تعلیمي کال کې له 349 زده کونکو څخه په 26-25 تعلیمي کال کې 419 زده کونکو ته لوړه کړې ده، د منځنیو ښوونځیو د Advanced Academics پروګرامونه یې ټولو ښپږو ښوونځیو ته پراخ کړي دي، شمولیت یې دوه برابره کړې دی، او په 24-25 تعلیمي کال کې یې په Advanced Academics کې د څو ژبو د زده کونکو (MLLs) سلنه له 13% څخه 23% ته لوړه کړې ده. دا هڅې ټولو زده کونکو لپاره د اکاډمیک غوره والي او مساوي فرصتونو د لارو رامنځته کولو لپاره د PPSD ژمنه منعکس کوي.

**ثانویه زده کړو څخه وروسته فرصتونه:** PPSD کار کړې ده ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د PPSD ډېر فارغین له ثانویه زده کړو څخه وروسته فرصتونو ته لاسرسی ولري. د دغه هڅو د ملاتړ لپاره، PPSD په ایالت کې یو مخکښ رهبر پاتې شوی دی ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې زده کونکي د ښوونځي د ورځې پر مهال PSAT لپاره کښیني او FAFSA بشپړوي. PPSD په دوه ژبو د لیک او لوست د مهر او د مجازي زده کړې فرصتونو ته د زده کونکو د لاسرسي د لارې لارښوونه هم کوي. PPSD د کریډیټ بیا ترلاسه کولو ته د زده کونکو لاسرسی هم اصلاح کړی دی. په ټولیزه توګه، دغه پانګونې د دې لامل شوي دي چې له ثانویه زده کړې څخه وروسته فرصتونو ته ډېر زده کونکي لاسرسی ولري. تېر کال، د پرووایډېنس د 1,609 فارغینو څخه، د وروستي کال شاوخوا 57% زده کونکي کالج ته ژمن وو، چې دا له منځګړیتوب څخه دمخه موډې راهیسي د پام وړ ډېربښت دی. د دې سربېره، د CTE د لاسلیک کولو په ورځ 100 زده کونکي د جنرال ډاینامیکس، برېښنایي کښتۍ، د شمالي امریکا د کارګرو د نړیوالې اتحادیې (LiUNA)، او د پرووایډېنس د اوبو رسولو د شرکت په ګډون په شرکتونو او سازمانونو کې د ښه معاش، لومړنۍ کچې بستونو ته ژمن وو.

**بیا ډیزاین شوي ښوونځي:** پنځه بیا ډیزاین شوي ښوونځي، چې په هغو کې 1 منځنی ښوونځی او 4 لیسې شاملې دي، د 25-24 تعلیمي کال لپاره رسماً نوي ماډلونه پیل کړل، او د ښوونځي نوي غوراوي یې رامنځته کړل چې د زده کونکو او کورنۍ لیوالتیاوې پوره کوي او زده کونکي د هغوی له ثانویه زده کړې څخه وروسته مسلکونو کې د بریالیتوب لپاره چمتو کوي. ښوونځي د مدیرانو او کارکونکو د څانګړو شوو ټیمونو لخوا چې د زده کونکو په بریالیتوب، ټولنې جوړونې، او د اکاډمیک پرمختګ په څارنې باندې متمرکز دي، ملاتړ کیږي. هر ټولګی د پروژې پر بنسټ زده کړې له لارې د زده کړې دوه ژورې تجربې مدغم کوي، او زده کونکو ته وړتیا ورکوي چې په انتقادي فکر کولو، همکارۍ، او د ریښتونو ستونزو په حل کې ښکیل شي. د ښوونځي کلتور او فضاء له لوړو، ثابتو اکاډمیکو توقعاتو، د زده کړې له ټولنیزو-عاطفي ملاتړونو، او د ټولنې شریکانو سره له همکارۍ سره د بیا ډیزاین کولو په موضوع باندې متمرکز دي. د لوړو زده کړو له مؤسسو، غیر انتفاعي سازمانونو، او صنعت سره پیاوړي مشارکتونه زده کونکو ته عملي تجربې او د مسلکي او تخنیکي ښوونې او روزنې (CTE) لارو سره دمخه مخامخ کیدلو زمینه برابروي. د دې سربېره، ښوونځي د اونیزو ټیلیفوني اړیکو، میاشتنیو غونډو، زده کونکو لخوا رهبري کیدونکو ربعوارو کنفرانسونو، او د ښوونځي د بیا ډیزاین کولو ټیمونو کې د والدینو د استازیتوب له لارې د کورنۍ-ښوونکي تر منځ پیاوړې اړیکې رامنځته کوي.

**له وړکتون دمخه غځول شوی ټولګی:** PPSD له وړکتون دمخه ټولګیو د شمېر او د سیټ د ظرفیت په لوړولو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی، په ځانګړې توګه زموږ د تخصصي ښوونې په ټولګیو کې. په 25-24 تعلیمي کال کې، PPSD د سیټ له 923 ظرفیت سره له وړکتون دمخه 41 ټولګي لري. دا له 21-20 تعلیمي کال څخه د 14 ټولګیو او 417 سیټونو ډېرېښت دی. تعلیمي حوزې د Bright Star درجه بندۍ سره د ښوونځیو شمېر هم ډېر کړی دی. په 22-21 تعلیمي کال کې PPSD د 2 ستورو لرونکي دوه ښوونځي او یو 5 ستوري لرونکی ښوونځی درلود. اوسمهال PPSD د 5-4 ستوري لرونکي 3 ښوونځي او یو 5 ستوري لرونکی ښوونځی لري. د دې سربېره، له وړکتون دمخه څانګې د پرووایډېنس له وړکتون دمخه سکرین شوو ماشومانو سلنه د 18% په اندازه لوړه کړې ده، چې د ماشومانو د لاسرسي سکرینګ ته لاسرسی اصلاح کوي.

## 2 رکن: ښکېلې شوې ټولنې

چېرې چې موږ وو: د ایالت له منځګړیتوب څخه دمخه، کورنېو د خپلو ماشومانو په ښوونې او روزنې کې هېڅ غږ نه درلود او د ښوونځي ټولنو سره یې د اړیکې نلرلو احساس کاوه. د هاپکینز (Hopkins) راپور څرګنده کړه چې ډېرو والدېنو د محرومیت او ګوښه کېدو احساس کاوه. والدېنو څرګنده کړه چې د ښوونځي او تعلیمي حوزې په کچه اړیکه محدوده وه او دا یې د خپلې ښکېلتیا د نه شتون د دلیل په توګه ذکر کړ. په خندونو کې د ګڼ شمېر افرادو او نهادونو لخوا نامنظمه څارنه، د هغوې په مورنۍ ژبه کې اسنادونو ته د لاسرسي نه شتون، متناقضه او ناهمغږې اړیکه، د تعلیمي حوزې د روښانه او لاسرسي وړ مالوماتو نه شتون، د ټولنې د همکارۍ نه شتون، او داسې یو سیسټم چې د صلاحیت، مسؤلیت، او حساب ورکولو روښانه شرح ونلري شامل وو.

چېرته چې موږ نن یو: PPSD د خپلې پرېکړې کولو په پروسې کې د کورنېو او د ټولنې د شریکانو رول بیا تعریف کړی دی. تعلیمي حوزې په ځینو پروګرامونو د پام وړ پانګونې کړې دي لکه د Parent University، چې د هغو کورنېو د ښکېلولو په لټه کې ده چې له تاریخي پلوه ترې لرې استازیتوب شوي دي، په پرېکړې کولو او کالت کې د نارینه مراقبت کونکي په ګډون، او د Parent Leadership Academy، چې کورنۍ د دفاع کولو په مهارتونو باندې ځواکمنوي. دا پروګرامونه د پیاوړو مشورتي شورا ګانو لخوا بشپړېږي چې ډاډمنوي چې کورنۍ، زده کونکي، ښوونکي، او د ټولنې رهبران د تعلیمي حوزې پالیسۍ او کړنې جوړوي. د ښوونځي د اصلاح ټیمونه، چېرې چې والدېن او زده کونکي د پرېکړې کولو فرصتونه لري، د ښوونځي په کچه مشارکتونو کې اضافه کېږي. تعلیمي حوزې د خنډونو له منځه وړلو او د مساواتو د کچې لوړولو لپاره د ټولنې مشارکتونه او بیارغونکې کړنې شامل کړي دي. دا هغو چاپېریالونو ته وده ورکوي چېرې چې زده کونکي او کورنۍ د ارزښت لرلو او ملاتړ کېدو احساس کوي.

زموږ د سیسټم د پرمختګ لپاره موږ د ټولنې د ښکېلتیا یوه زیربناء ډېراین کړې ده او باید پدې بنسټ باندې پانګونې او د هغه جوړولو ته ادامه ورکړو:

**د کورنۍ مشارکتونه:** د Parent University پروګرام اوسمهال په ګڼ شمېر ژبو کې له 5,000 څخه ډېر وراندیزونه په حضوري او آنلاین ډول وراندې کړي دي، پداسې حال کې چې د کورنۍ اعظمي ګډون ته د لاړې هوارولو لپاره د ماشوم پاملرنه وراندې کوي. د Parent Leadership Academy د دې پروګرام څلویښت فارغین څرګندوي او هر ښوونځی د والد د یو سفیر کوربه توب کوي ترڅو د والدېنو او د ښوونځي د مشرتابه ټیمونو تر منځ کورنېو سره د یوې اړیکې په توګه اړیکه ونیسي او تعامل وکړي.


**د ټولنې همکاري:** PPSD د ټولنې او والد مشورتي مدیره هیئتان جوړ کړي دي ترڅو له تعلیمي موخو سره مطابقت ولري او همکاري پیاوړې کړي. د پیرودونکو د چوپړتیا د "Let's Talk" پلیټ فارم د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې کې د اړیکو د ښه کولو او د ځواب ورکولو د وختونو د اصلاح لپاره پیل شو. دې پلیټ فارم د 24 ساعتو دننه مودې کې د ډېرو اړیکو ځوابولو ته لاره هواره کړې ده. PPSD د تعلیمي حوزې په کچه مشورتي شورا (DWAC) تأسیس کړې ده ترڅو د ټولنې غږې په نویو پروګرامونو او وراندیزونو کې ښکېل کړي او د هغو ستونزو رامنځته کېدو په صورت کې چې بحث ته اړتیا لري، خبرو اترو ته وده ورکړي. DWAC، د والدېنو له مشورتي شورا (PAC) سره یو ځای، PPSD او د RIDE مشرتابه ته، په ځانګړې توګه د RIDE کمشنر او د PPSD رئیس ته چې په بشپړه توګه ګډون کوي او ښکېل کېږي، د مستقیم فیډبیک په وراندې کولو کې مهم رول لوبولی دی. د دې سربېره، د زده کونکو مشورتي شورا او د ښوونکو کابینه چې د کورنۍ او ټولنې د ښکېلتیا دفتر لخوا د رئیس په همکارۍ تسهیل کېږي، ارزښتناکه پوهه او وندې وراندې کوي.



**د ژباړې چوپړتیاوې:** تعلیمي حوزې د کورنېو او ښوونځېو تر منځ د اړیکو او ښکېلتیا د اصلاح لپاره د ایفیکټیف (Effectiff) ژبنۍ ژباړې او شفاهي ژباړې له چوپړتیاوو سره قرارداد کړی دی. د ژوندې ژباړې دا چوپړتیا د تعلیمي حوزې هر کارکونکي غږې لپاره د لاسرسي وړ ده او کولاې شي چې له 350 څخه ډېرو ژبو کې ژباړه وکړي. د دې پروګرام پانګونه هر کال له 1.5 میلیون ډالرو څخه لوړه ده. ParentSquare، چې د اړیکې یو پلیټ فارم دی او د ښوونځي مدیرانو او ښوونکو ته اجازه ورکوي چې کورنېو سره اړیکه ونیسي، روان تعلیمي کال یې د ښوونځېو او کورنېو تر منځ له 5,000 څخه ډېر تعاملات لیدلي دي.

**حاضري:** PPSD د زده کونکو بریالیتوب پر وراندې د حاضرۍ د سیستماتیکو خنډونو له منځه وړلو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. په خورا مهمو پرمختګونو کې د زده کونکو په حاضرۍ کې د کورنۍ ستراتیژیکه ښکېلتیا، د زده کونکو د حاضرۍ د رئیس ټاکل، او د حاضرۍ د اتلانو کمپاین شامل دي چې د 2023-24 تعلیمي کال پرمهال یې په اوږدمهاله حاضرۍ کې 13% کمښت 36.6% ته را ټیټ کړی دی.

# 3 رکن: د نړیوالې کچې استعداد



چیرې چې موږ وو: منځګړیتوب څخه دمخه، PPSD د ښوونکو د ملاتړ په برخه کې له ستونزو سره مخ وو ترڅو هغه مسلکي پرمختګ او تصدیقونه ترلاسه کړي چې د PPSD د زده کونکو له بدلیدونکو اړتیاوو سره د مطابقت لپاره اړین دي. د دې سربېره، PPSD د ښوونکو محدوده لیکه او د ګمارنې محدودې هڅې درلودې، چې د ګمارنې پخوانۍ، ارشدیت پر بنسټ پروسه یې ستونزمنه کړه او داسې کاري ځواک ته یې لاره هواره کړه چې د PPSD د زده کونکو د جمعیت له متنوع اړتیاوو سره یې مطابقت نه درلود.

چیرې چې موږ نن یو: PPSD د نړیوالې کچې استعداد کې چې زموږ د زده کونکو له اړتیاوو سره مطابقت لري د پام وړ پانګونې ترسره کړې دي، هغو ښوونکو ته د تصدیق د لګښت د بیرته اداء کولو په ګډون چې زموږ د څو ژبو زده کونکي، د ګمارنې ګړندي شوی مهالوېش، او د ښوونکو د لیکې نوښتي پروګرامونه ملاتړ کوي. د دې سربېره، PPSD د ښوونکو د تنوع ډېرولو او د لوړې اړتیا لرونکو برخو کې د بستونو ډکولو لپاره په نښه شوي ګامونه پورته کړې دي، لکه د مختلفو معلولیتونو لرونکو زده کونکو د ملاتړ کونکو ښوونکو لپاره لومړني قراردادونه او بنسټیز معاش او د راډ ټاپو بنسټ سره د رنګه جلد لرونکو ښوونکو لپاره د پور په معافیت کې د 25,000 ډالرو د وړاندیز مشارکت.

زموږ د سیستم د پرمختګ لپاره موږ د بشري سرچینو زیربناء ډیزاین کړې ده او موږ باید پدې بنسټ باندې پانګونې او د هغه جوړولو ته ادامه ورکړو.

**د بشري سرچینو بیارغول شوی دفتر:** PPSD زموږ د بشري سرچینو ډیپارټمنټ پیژندلې دی ترڅو د ښوونځیو او زده کونکو په ملاتړ کولو باندې لا ډېر متمرکز پاتې شي او د TAP له لومړیتوبونو سره مطابقت وکړي. د ډیپارټمنټ څارنې لپاره نوې رهبري ګمارل شوي وه، او د بشري سرچینو کارکونکي اړ وو چې بستونو لپاره بیا غوښتنلیک وسپاري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې مهارتونه او ذهنیتونه د ښوونځیو له ملاتړ سره مطابقت لري. پدې بیا ترتیب کې د لاسي، کاغذ پر بنسټ پروسو کمولو باندې تمرکز، له معاملاتي کار څخه په هغه کار باندې د سرچینو بدلول چې د کارکونکو په ستراتیژیکې ګمارنې او استخدام تمرکز کوي، او پرېکړې کولو لپاره د مالوماتو ښه کارول شامل وو.

**استخدام او ګمارنه:** موږ له مې څخه تر مارچ میاشتې پورې په ډراماتیک ډول سره د ګمارنې د مهالوېشونو ګړندي کولو لپاره کار وکړ ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې PPSD هغه وخت ګمارنه کوله کله چې د غوښتونکو د ډلې کیفیت تر ټولو ژور وو. پدې بدلون باندې د پانګونې لپاره، PPSD د استخدام فعالیتونو ته ډېره پراختیا ورکړې ده او د لوړې اړتیا په برخو کې یې ښوونکو ته لومړني قراردادونه او هڅونې وړاندې کړې دي. د هېواد په کچه د ښوونکو د کمښت سربېره، دې پراوونو PPSD ته وړتیا ورکړې ده چې په 2015 کال کې د نویو رنګه جلد لرونکو ښوونکو شمېر له 15% څخه په 2024 کال کې 29% ته لوړ کړي. ښوونکو لپاره مهمه ده چې زموږ د زده کونکو د جمعیت تنوع منعکس کړي.

**لیکې او تنوع:** لکه د PPSD د Grow Your Own پروګرامونو له لارې د متنوع روزونکو د استخدام او ساتلو لیکې پیاوړې کړې دي، چیرې چې PPSD د لوړ پوتانسیل کارکونکو غړو باندې پانګونه کوي ترڅو د لوړې اړتیا ساحو کې تصدیق شي. د دې سربېره، PPSD د راډ ټاپو له بنسټ مشارکت کړې ده ترڅو رنګه جلد لرونکو روزونکو ته د زده کونکو د پور معافیت وړاندې کړي، او د ښوونکو روزنې لپاره یې له ځایي پوهنتونونو سره همکاري کړې ده.

**ښوونکو لپاره د تصدیق ملاتړ:** د ESL تصدیق لپاره په کال کې له 800 زره میلیون ډالرو څخه ډیرې بیا ادائینې په ګډون، د ښوونکو په روزنې، مربیګرۍ، او تصدیق کې د لویو پانګونو له لارې د ESL لخوا تصدیق شوو ښوونکو شمېر 17% څخه 36% ته لوړ شوی دی.

**مسلکي پرمختګ:** موږ د اضافي مسلکي پرمختګ وخت له لارې له HQIM سره مطابقت لرونکې جامع روزنه وړاندې کړې ده او د ښوونکو ظرفیت جوړونې لپاره مو له دندې سره د مدغم شوې زده کړې فرصتونه معرفي کړي دي. پدې کې د زده کونکو د ښکیلتیا د کچو لوړولو لپاره له کلتوري پلوه د ځواب ویونکې ښوونې کړنې او د کوچنۍ ډلې تدریسي ستراتیژۍ شاملې دي ترڅو کړي.

# 4 رکن: د تعليمي حوزې اغيزناک سيستمونه

چېرې چې موږ وو: منځګړيتوب څخه دمخه، PPSD د اغيزناکو، پر وخت، او زده کونکو باندې متمرکزو پروسو او پرېکړې کولو په برخه کې له ستونزو سره مخ وو. دا اکثراً د هغو پرېکړو لامل ګرځېده چې لنډ نظري وو، لکه د پانګې پلان چې په کوچنيو، مؤقتي ترميماتو باندې متمرکز وو، يا هغه پرېکړې چې زده کونکي محوره نه وې، لکه د بودجې د تخصيص پروسه چې اوسني غير عادلانه وضعيت ته يې ادامه ورکړه.

د جان هاپکينز د راپور له مخې "منځګړيتوب څخه دمخه د ټولو مګر د يو ښوونځي په استثناء، ودانۍ په ډېر کمزوري – او په يو کې، په مطلق ډول په خورا خراب - حالت کې وې. په ځينو مواردو کې، تاسيساتو زده کړه او احتمالاً د زده کونکو روغتيا په واضح توګه مختل کړې وه."



چېرې چې موږ نن يو: PPSD د تعليمي حوزې د اغيزناکو سيستمونو جوړولو لپاره چې تلپاتې اصلاح ملاتړ کوي، زړور ګامونه پورته کړي دي. د زيربناء په عصري کولو کې د پام وړ پانګونې ترسره شوې دي، د پانګې د اصلاح له پلان سره چې د دې موضوع داډمنولو لپاره ډيزاين شوی دی چې تر 2030 کال پورې به هر زده کو په يو نوي يا نوي ته ورته ښوونځي کې زده کړه وکړي. د زده کونکو پر بنسټ بودجې پيل د لا ډېر عادلانه تخصيصونو په برابرولو او د ښوونځي په کچه ښو پرېکړو کولو کې مرسته کړې ده. د ډيټا يا مالوماتو پرمختللي سيستمونه د فعاليت او عملياتو په اړه د ريښتوني وخت پوهه وړاندې کوي، چې فعال پرېکړې کولو او رامنځته کېدونکو ننګونو ته چټک ځواب ورکول ممکنوي. PPSD ګامونه پورته کړي دي ترڅو د ودانيو پاکوالي لپاره د حساب ورکولو شتون ډاډمن کړي او City سره يې فعال مشارکت کړی ده او سيستمونه يې رامنځته کړي دي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د ودانيو پروژې د مهالوېش شوو بشپړيدو/اصلاح موخو ته رسيږي.

زموږ د سيستم د پرمختګ لپاره موږ عملياتي زيربناء ډيزاين کړې ده او موږ بايد پدې بنسټ باندې پانګونې او د هغه جوړولو ته ادامه ورکړو.

**د ښوونځي د بودجې جوړول:** PPSD د زده کونکو پر بنسټ بودجه پلي کړې ده ترڅو د ښوونځي په تخصيصونو کې د مساواتو کچه لوړه کړي او د ښوونځي په کچه ښه پرېکړه کول چمتو کړي، له يو داسې سيستم څخه تلل چې په هغه کې د بودجې له 5% څخه لږه برخه له 40% څخه ډېره د ښوونځي د مشر په صلاحيت کې وه.

**د تاسيساتو عصري کول:** تعليمي حوزې د پانګې د اصلاح پروژو کې پرمختګ کړی ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې تر 2030 کال پورې به ټول زده کونکي په نويو يا بيارغول شوو ودانيو کې زده کړه وکړي. موږ د ښوونځي جوړولو کمېټه (SBC) بيا تأسيس کړې ده چې د لويې ټولنې استازيتوب يې کاوه او په پرېکړې کولو کې يې د ټولنې د ګډون امکان برابر کړی دی. SBC د مؤقتي چاپېريال په جوړولو او د PPSD عملياتي ټيم سره په کار کولو کې مهم رول لوبولی دی ترڅو لا ډېر اغيزناک او ارزانه وي.

**د فعاليت پر بنسټ تاسيساتو قرارداد: PPSD** د فعاليت پر بنسټ ساتنې او د ساتنې او مراقبت په قرارداد بدل شوی دی چې تعليمي حوزې ته دا واک ورکوي چې خپل پلورونکی د ترميم او ساتنې او مراقبت د پاکولو او څارنې د لوړ معيار لپاره مسؤل وګڼي. په پايله کې، اوسمهال 89% مديران د خپلو ودانيو د پاکولو په برخه کې رضايت څرګندوي.

**د سيستمونو مدغم کول: PPSD** د مالوماتو د پرمختللو سيستمونو د کارولو له لارې د حاضرۍ، فعاليت، او د سرچينو د اړتياوو د ريښتوني تعقيب لپاره پرېکړه کول اصلاح کړي دي. موږ د څارنې او مالي پلان جوړونې لپاره د ښار، ايالت، او تعليمي حوزې د نهادونو تر منځ همکارۍ ته وده ورکړې ده.

**پيرودل او تدارکات:** PPSD د يوې پروسې له لارې چې د ايالت او ښار له رهبرانو سره په همکارۍ کې رامنځته شوې ده، د تدارکاتو مهالوېش شاوخوا نيمايي ته کم کړی دی.

**د کويډ ځواب:** موږ د کويډ19- وبا پر مهال ښوونځي په خوندي ډول سره پرانستي ساتلي وو پداسې حال کې چې ډېرو نورو ښاري تعليمي حوزو د هېواد په کچه هڅه کوله چې ماشومان په ښوونځي کې وساتي.



# ډېر کار ته اړتیا ده: متمرکزې موخې او د اقدام پړاونه

زموږ په سیسټم کې ټولو زده کونکو لپاره د مساویانه او غوره ښوونې او روزنې د ژمنې پوره کولو لپاره لا ډېر کار اړین دی. PPSD به د دې موضوع په ډاډمنولو باندې متمرکز پاتې شي چې د PPSD ټول زده کونکي لاندې مواردو ته لاسرسی لري: زده کړې کې غوره والی، د نړیوالې کچې استعداد، ښکېلې ټولنې او د تعلیمي حوزې اغېزناک سیسټمونه، چې ټول یې د پایلو او فرصتونو د ګړندي کولو ښکاره موخه لري.

موږ هغه موخې په لاندې ډول ذکر کوو چې د 2024-2025 تعلیمي کال په اوږدو کې به د PPSD د اصلاحاتو د هڅو لارښوونه وکړي او د اقدام کولو هغه کلیدي ګامونه چې د نوموړو موخو په لور د پرمختګ ملاتړ کولو لپاره پورته کیږي.

## زده کړې کې غوره والی

**موخې**

- د 2025 کال په مني کې به PPSD خپل د عمومي حساب ورکولو درجه بندي له 19% (2023) څخه 33% ته د 3-ستورو لرونکي ښوونځیو د شمېر په ډېرولو اصلاح کړي او په دې ډول سره د PPSD د هغو زده کونکو ټولټال شمېر له 2,397 (2023) څخه 4,520 ته لوړ کړي چې په 3-ستورو لرونکي ښوونځي کې زده کړه کړې وي. موږ به دا ترسره کړو د لاندې مواردو له لارې:
  - له 25.2 (2023) څخه 31 ته زموږ د ریاضي د فهرست او له 28.4 (2023) څخه 35 ته زموږ د ELA د فهرست اصلاح کول.
  - په ELA او iReady ریاضي کې په مؤقتي مراحلو کې د ودې ځرګندول ترڅو د ALL هغو زده کونکو لپاره 1.5 کاله وده شامله کړي چې د ټولګي له کچې څخه 2 یا ډېر کلونه لاندې وي.
  - د لوړ لومړیتوب لرونکو ښوونځیو لپاره دواړه په ریاضي (Hopkins، DelSesto، Kizarian، Fogarty، Roger Williams، Webster، West Broadway، Lima، Carnevale، Hopkins،) او ELA کې (Lima، DelSesto، Fogarty او Roger Williams) لږ تر لږه 18% ته د فعالیت او ودې ګړندي کول (هغه ښوونځي چې 10% څخه لږ معیارونه پوره کوي/ زیاتیږي).
  - هغو زده کونکو لپاره د SAT نمرو ډېرول چې د بیا ډیزاین کولو په پروسې کې په High Schools کې په عالي لېسو (Hope، Alvarez، Mt Pleasant، JSEC، او Newcomer) کې زده کړه کوي ترڅو خپل د 2030 موخې پوره کړي یا هغه څخه مخ ته ولاړ شي.
  - له موخې سره مطابقت لرونکو ثانویه لارو پروګرامونو کې له 23 څخه تر 29 پروګرامونو د لاسرسي د کچې لوړول او په هغوی کې ګډون کول او په 2025 کال کې له 28% څخه په 2026 کال کې 34% ته لوړول.
- PPSD به په ELA کې د HQIM د پلي کولو د اصلاح په برخه کې ښوونځي ملاتړ کړي په ځانګړې توګه د متن پر بنسټ لیکنې په برخه کې (80%) او د لوست له چارچوکاټ جوړولو سره مطابقت لرونکو کړنو پلي کول (80%)، اکاډمیکه وینا (80%) او د کوچنۍ ډلې ښوونه (70%).
- PPSD به ښوونځیو سره مرسته وکړي چې د مالوماتو د پلټنې او د عمل د پلان جوړونې کړنې د لوړ لومړیتوب لرونکو 15 ښوونځیو کې پلي کړي. له ټولو ښوونځیو څخه به د لاندې اجزاو د شواهدو د پلي کولو او ځرګندولو تمه وشي: په ELA یا په ریاضیاتو کې د ټولګي د معیارونو په سټر کار کې د کلیدي نظرونو او جزئیاتو په لور د زده کونکو پرمختګ ته بیاکتنه (80%) او لږ تر لږه هغه 15% ټولټال زده کونکو لپاره د عمل د پلانونو پراختیا او پلي کول چې II کچې لپاره د MTSS هرم تعقیبوي.

### د اقدام کولو پړاونه

- ✓ **د زده کړې د لوړ کیفیت لرونکو توکو ویشل:** ټولو ټولګیو ته د لوړ کیفیت لرونکو، معیارونو سره برابرو تدریسي توکو برابر کړئ او په ټولو ښوونځیو کې د ثابت پلي کولو د څارنې او ډاډمنولو لپاره لارښود مالومات وکاروئ.
- ✓ **د ښوونې طریقې معیاري کړئ:** د ښوونې روښانه او د تعلیمي حوزې په کچه طریقې وکاروئ چې د مالوماتو د منظم تحلیل، د ښوونکي د روزنې، او د سرچینو د یو متمرکز سیسټم لخوا ملاتړ شوي وي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د ښوونځي ټولې کړنې د تعلیمي حوزې له موخو سره مطابقت لري.
- ✓ **د زده کړې د خلاو ډکولو لپاره د ښوونکو ملاتړ او روزنه:** د مسلکي پرمختګ په نښه شوې جلسې دایر کړئ او ښوونکي د زده کړې د خلاو د پېژندلو په ابزارونو او ستراتیژیو باندې سمبال کړئ او ښوونه داسې برابره کړئ چې د زده کونکو اړتیاوې په اغېزناک ډول سره پوره کړي.
- ✓ **د څو ژبو زده کونکو د بریالیتوب پیاوړي کول:** د څو ژبو زده کونکي له متمرکزو منځګړیتوبونو او د ژبې د پرمختګ له پروګرامونو سره تعقیب او ملاتړ کړئ ترڅو په هغو زده کونکو کې 20% ډېرښت ترلاسه کړئ چې تر 2026 کال پورې د ژبې د زده کړې موخې ترلاسه کوي.
- ✓ **د څو ژبنیو پروګرامونو پیاوړي کول:** له اضافي سرچینو او ښوونیز ملاتړ سره څو ژبنې/دوه ژبو پروګرامونه ارزیابي او پیاوړي کړئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د څو ژبو/دوه ژبو د پروګرامونو 75% زده کونکي په ریاضي او لوستلو کې د ټولګي د کچې توقعات پوره کړي یا ترې لوړ فعالیت وکړي.
- ✓ **مسلک ته د چمتو والي د کچې لوړول:** د ملاتړ ټاکلو پروګرامونو ته پراختیا ورکړئ، لکه د لارښوونې او مهارت جوړولو ورکشاپونه، ترڅو تر 2025 کال پورې له 50% فارغیدونکو زده کونکو سره د مسلکي او تخنیکي ښوونې او روزنې (CTE) د تصدیقونو او لارو په بشپړولو کې مرسته وکړي.
- ✓ **د مسلکي او تخنیکي پروګرامونو پراختیا:** له CTE سره مطابقت لرونکي شپږ نوي پروګرامونه چې ټولټال 29

ته لوړوي، پیل کړئ او دغه پروګرامونو ته په فعال ډول سره وده ورکړئ ترڅو په 2025 کال کې د زده کونکو ګډون کول له 28% څخه په 2026 کال کې 34% ته لوړ شي.

## د نړیوالې کچې استعداد

**موخې**

- تر 2026-2027 تعلیمي کال پورې د کال په پیل کې 98% ته د بشپړو کارکونکو لرونکو ټولګیو د سلنې لوړول.
- تر 2026-2027 تعلیمي کال پورې د نوو استخدام شوو ښوونکو سلنه چې د رنګه جلد لرونکي ښوونکي دي، د 30% په اندازه لوړه کړئ.

### د اقدام کولو پړاونه

پر مخ تلل، PPSD به لاندې ګامونه پورته کړي ترڅو په تېرو څو کلونو کې رامنځته شوي بنسټ جوړ کړي:

- ✓ په کلیدي پروګرامونو کې پانګونې ته ادامه ورکړئ لکه د څو ژبني تصدیق ورکول.
- ✓ د PPSD د Grow Your Own پروګرام ته پراختیا ورکړئ ترڅو د شاګردی په یو راجستر شوي پروګرام بانديې بدل شي، دا پروګرام ته اجازه ورکوي چې له اضافي فدرالي بودجې څخه ګټه پورته کړي.
- ✓ د وروستیو فوکس ګروپونو پر بنسټ د ساتنې هڅو ته پراختیا ورکړئ او په 5 ښوونځیو کې د ساتنې د آزمایښتي پروګرام د فعالیت کچه لوړه کړئ.
- ✓ د تعلیق پروسه اصلاح کړئ ترڅو د ارشدیت پر ځای د کارکونکو پرېکړې د زده کونکو له اړتیاوو سره برابرې کړئ.
- ✓ مرکزي دفتر بیا تنظیم کړئ ترڅو په ښوونې او زده کړې باندې تمرکز وکړي او د څو ژبو زده کونکو او د مختلفو معلولیتونو لرونکو زده کونکو له اړتیاوو سره مطابقت وکړي.

## ښکېلې شوې ټولنې

**موخې**

- د 2025 کال تر پایه پورې په 100% ښوونځیو کې د فعالو مشورتي شورا ګانو د تأسیس، د والدینو په ورکشاپ کې د ګډون کولو د کچې د لوړولو—په ځانګړې توګه د هغو ډلو ترمنځ چې له تاریخي پلوه ورڅخه لرې استازیتوب شوي وي—تر 2026 پورې، او په ښه توګه د کورنیو او کارکونکو د اړتیاوو پوره کولو لپاره د اړیکې د ابزارونو او د ژباړې د چوپړتیاوو د مطلوب کولو له لارې د کورنی او ټولنې د معنی لرونکي ښکېلتیا ډاډمنول.
- PPSD به خپله اوږدمهاله غیرحاضري په لومړنی کچې کې له 29.8% څخه 20% ته، منځني ښوونځي کې له 39% څخه 31% ته او په لیسې کې له 43.6% څخه 33% ته راټیټه کړي.

### د اقدام کولو پړاونه

- ✓ هر انفرادي ښوونځی به د ټولنې یوه مشورتي شورا تأسیس کړي چې هغه به له والدینو، د ټولنې له رهبرانو، او زده کونکو څخه جوړه شوې وي. دا شوراګانې به د ښوونځیو د پریکړو په اړه د نظر ورکولو سره د ارزښت اضافه کولو ته ادامه ورکړي



او د ښوونځي د سمون د پلانونو په جوړولو کې به مرسته وکړي. د 2025 کال په پای کې به 100% ښوونځي یوه فعاله مشورتي شورا ولري او د تعلیمي حوزې په اړه به د والدینو رضایت د 20% په اندازه لوړ شي، لکه څرنګه چې د تعلیمي حوزې د سروې ګانو پواسطه اندازه شوې دی.

- ✓ د مالوماتو تحلیل: له کارکونکو او کورنیو څخه فیډبیک راټول کړئ ترڅو ارزونه وکړئ چې د ژباړې قراردادي چوپړتیاوې او ParentSquare د هغوی اړتیاوې څنګه پوره کوي. ارزونه وکړئ چې آیا دا چوپړتیاوې د نورو برخو لګښتونه کموي، لکه د حضوري شفاهي ژباړونکو لپاره کمه شوې اړتیا او یا د غلط فهمی د حل لپاره لږ مصرف شوی اداري وخت.
- ✓ تعلیمي حوزه به تر 2026 کال پورې په ورکشاپونو کې د ګډون کونکو والدینو شمېر لوړ کړي، چې لږ تر لږه 30% ګډون کونکي به له هغو ډلو څخه وي چې له تاریخي پلوه ورڅخه لږ استازیتوب شوي وي.
- ✓ د ټولنې په کچه داسې یو کمپاین جوړ او پلي کړئ چې په منظمه توګه ښوونځي ته په تلونکو زده کونکو او د والدینو او ټولنې د رهبری ډلو څخه ګټې اخستنې باندې تمرکز کوي ترڅو کورنیو ته ښوونځي کې د حاضرۍ د ارزښت او د اوږدمهاله غیرحاضرۍ د اغېزې په اړه مثبت پیغامونه ولیږي.

## د تعلیمي حوزې اغیزناک سیستمونه

**موخې**

- د PPSD ښوونځیو کې به تر 2026-2027 تعلیمي کال پورې 30% سیټونه نوي یا نویو ته ورته وي او 2030 کې به ټولو زده کونکو لپاره د کافي سیټونو لرلو ته چمتو وي.
- 50% ځواب ورکونکي به د ښوونځي د سرچینو په اړه د SurveyWorks پوښتنو ته مثبت ځواب ورکړي، له شاوخوا 40% ځواب ورکونکو څخه چې اوسمهال مثبت ځواب ورکوي.

### د اقدام کولو پړاونه

د دغه پیاوړو بنسټونو جوړولو لپاره به PPSD:

- ✓ د پانګې د پلان د کار پرمختګ ته ادامه ورکړي.
- ✓ PPSD به د PPSD زده کونکو دفاع ته ادامه ورکړي او ډاډ به ترلاسه کړي چې د پرووایډېنس ښار به د پرووایډېنس عامه ښوونځیو ته خپل د کافي بودجې برابرولو مکلفیت ته ژمن پاتې شي.
- ✓ د PPSD د مالي چارو په اړه د مالوماتو د ښه شریکولو لپاره به د تعلیمي حوزې ویب پاڼه اصلاح کړي، او د مالوماتو شریکول لپاره به د پرووېډېنس ښار سره مهالوېش شوې جلسې دایر کړي.

**د لا ډېرو مالوماتو ترلاسه کولو او ښکېلیدو لپاره www.4pvdkids.com څخه لیدنه وکړئ**